يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي) او نه متفحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) او فرمايل به يې: « يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

پوچه وينا او پوچې کړنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له اخلاقو څخه نه وو، نه يې د دې کار اراده درلوده او نه يې په قصدي توګه کاوه، ځکه چې هغه صلى الله عليه وسلم د لويو اخلاقو خاوند و. او رسول الله صلى الله عليه وسلم به وييل: د الله جل جلاله په نزد په تاسو کې تر ټولو غوره هغه څوک دی چې اخلاق يې په ښو کړنو کولو - ورين مخ، له خلکو څخه په ضرر لرې کولو او يا ورڅخه سخت پورته کولو، او له خلکو سره په مهربان چلند کولو سره ښايسته وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5803